
Pashto

د خپل

# CHROMEBOOK


## د پاملرنې لپاره 8 طریقې



خپل سکرین او د کي بورډ ته ئ
ته پاملرنه وکړئ



خواړه او څښاک لیرې وساتئ



د فرش نه یا د میزونو او ډیسکونو نه
یې لیرې وساتئ



د وړلو پرمهال یې په دواړه
لاسونو کې ونیسئ



په موټر کې یې مه پرېږدئ




سټیکر وربانديې مه لګوئ
یا لیکل وربانديې مه کوئ



د خراب شوي یا ورک شوي کروم بوک
په اړه سمدلاسه راپور ورکړئ



هره شپه یې په خوندي ځای
کې چارج کړئ

TwinRivers
UNIFIED SCHOOL DISTRICT

Pashto

د خپل

# CHROMEBOOK

## کارولو په اړه د زده کونکو تمې او توقعات

1. د TRUSD ټول زده کونکي باید هره ورځ د خپل ځان سره هغوی ته ورکړل شوی کروم بوک او د کروم بوک چارجر ښوونځي ته راوړي.
2. زده کونکي به خپل کروم بوک په کور کې چارج کوي او ښوونځي ته به يې د چارج نه ډک د ځان سره راوړي ترڅو د ښوونځي ټوله ورځ کې د کار لپاره چمتو اوسي.
3. زده کونکي به ښوونځي ته تګ او راتګ کې او هره ورځ د ټولګیو ترمینځ هغوی ته ورکړل شوی کروم بوک په خوندي ډول په يوه کڅوړه کې او د شاه په بکس کې لیږدوي.
4. که چیرې زده کونکي ونشي کولی خپل کروم بوک ښوونځي ته د ځان سره راوړي نو هغوی به خپل ښوونکی خبروي او د ورځې لپاره به ورته بل یو په پور ورکول کیږي.
5. زده کونکي به د تفتيش لپاره خپلې وسیلې ورکوي کله چې د ښوونکي يا د سایټ اداري لخوا يې غوښتنه وشي. په تفتيش کې د براوزر تاريخچه او د وسیلې او ټرانسپورټ (د شا کڅوړه او بیګ) فزيکي ارزونه ممکن شامل وي.
6. زده کونکي هغوی ته ورکړل شوي کروم بوک په ښه حالت کې د ساتلو مسؤلیت لري. که چیرې کروم بوک کار نه کوي نو هغوی به خپل ښوونکی خبروي ([د کروم بوک د پاملرنې ویډیو](د کروم بوک د پاملرنې ویډیو).)
7. که چیرې کروم بوک ورک شي يا خراب شي، هغه که قصدي وي يا هم د زده کونکي يا د کورنۍ د توجه نه کولو له امله وي، زده کونکي يا والدين/سرپرستان باید د کروم بوک د بدلولو لګښت مسؤل وي. *(مآخذ: د زده کونکي او کورنۍ جزوه برخې 3.20، 3.21؛ BP 3260؛ BP 6161.2)*
8. پدې شرايطو کې هرډول استثنا بايد وارډمخه ترتيب شي او د زده کونکي ټاکلي ښوونځي سایټ (سایټونو) کې د مدير، د مدير معاون، يا مرستيال مدير لخوا تاييد شي.

**پوښتنې لرئ؟** تاسې کولی شئ د TRUSD د معلوماتي ټیکنالوژۍ د مرستې ډیسک سره د بریښنالیک TechSupport@twinriversusd.org له لارې يا په 7802 -566 (916) شمیره د تلیفون کولو له لارې، دوشنبه – جمعه، د سهار 7 تر ماښام 5 بجو پورې اړیکه ونیسئ.

TwinRivers
UNIFIED SCHOOL DISTRICT